# جبريل -عليه السلام- راته همېشه په ګاونډي سره وصيت کاوه تر دې چې ما ګمان وکړ د میراث مستحق به يې وګرځوي

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روایت دی وايې چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «جبريل -عليه السلام- راته همېشه په ګاونډي سره وصيت کاوه تر دې چې ما ګمان وکړ د میراث مستحق به يې وګرځوي».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې جبرائیل علیه السلام ورته په تکرار سره د ګاونډي په حق ټینګار وکړ - او ګاونډي هغه څوک دی چې کور ته دې نږدې وي؛ خواه که هغه مسلمان وي یا کافر، خپلوان وي او که نه وي - چې حق يې وساتل شي او ازار نه شي، نیکي ورسره وشي او په آزار يې صبر وشي، ( ټینګار تر دې حده و چې ) رسول الله صلی الله علیه وسلم ګمان وکړ چې د ګاونډي لوی حق او د جبرائیل علیه السلام ټینګار کیدی شي د دې لامل وګرځي چې وحي پرې نازله شي او ګاونډي ته له مرګ نه وروسته په پاتې مال کې برخه ورکړل شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4965